# اِسلام کښې


## د مزدورانو حقونه

**01-May-2025**

هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)



پۀ یکم مئي، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 2 ذُو القعده، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# اِسلام کښې د مزدورانو حقونه

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ــــ آقا او غُلام هُم پۀ یو شکل کښې
- ــــ د اَرَسطُو عجیبه او ناشنا نظریه
- ــــ د جنَّت او د دوزخ خبري اترې
- ــــ عزت مند څوک؟

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولوستو، الله پاک په هغهٔ باندې 10 رحمتونه نازلوي او څوک چې 10 کرته درود ولولي، الله پاک په هغهٔ باندې 100 رحمتونه نازلوي او چا چې 100 کرته درود شريف ولوستو، الله پاک د هغهٔ د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا بنده **د نفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے** او هغهٔ به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتلے شي- (1)

بچاوے تم کو جو دوزخ سے ایسے مُحسن پر | سدا سلام کہو عمر بھر درود پڑھو
عبث گناہوں کی شامت میں مارے پھرتے ہو | خُدا کی تم پہ ہو رحمت اگر درود پڑھو (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے- (3)

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ

---

1... معجم اوسط، جلد:5، صفحه:252، حديث:7235۔

2... نورِ ايمان، صفحه:57۔

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

چې د بیان اوریدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِیّتونه وکړو: مَثَلاً ❀ د اللّٰه پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پۀ اَدب به کښېنم ❀ ښۀ پۀ توجُّه به بیان اورم ❀ څۀ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## آقا او غلام هم پۀ یو شکل کښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د حدیثِ پاک پۀ مشهور کتاب بُخاري شریف کښې یو ډیر ښکلے روایت دے، زۀ هغه روایت د لږ وضاحت سره تاسو ته بیانووم: حضرت مَعرُور بن سُوَید رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: یو ځل زما د صحابئِ رسول حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د زیارت سعادت نصیب شو، د هغوئي سره د هغوئي غُلام هم وو، انداز یې داسې وو چې حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لاندې د کم قیمت والا جامې اغوستې وې، بره یې پرې یو قیمتي څادر اچولے وو، بالکل هم داسې جامې د هغوئي د غلام هم وې، هغۀ هم لاندې کم قیمت والا جامې اغوستې وې او د پاسه یې پرې قیمتي څادر اچولے وو۔ دا ناشنا انداز چې مې ولیدو نو عرض مې وکړو: اے ابو ذَر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ! دا خو هم کیدے شو چې تاسو د دواړو قیمتي څادرو نه خپلې بهترینې جامې جوړې کړے وے او کم قیمت والا چې کومې جامې دي، هغه مو غلام ته اچولے وے (داسې به ستاسو بهترینې جامې هم جوړې شوې وے او د آقا او غلام پۀ مینځ کښې به فرق هم وے)۔ دا پوښتنه چې یې واوریدله نو حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د خپل تیر وخت یوه واقعه بیان کړه (یعنې هغه زمانه کله چې حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ لا د نبیانو د سلطان، رسولِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه تربیت حاصلولو، د نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه یې آداب او اخلاق زده کول، هغوئي د هغه ورځو خبره وکړه)، اوئې فرمائیل: یو کَس وو، یو ځل زما د هغۀ سره څۀ بحث وشو نو ما هغۀ ته ووئیل: اے د تورې مور زویه! (یعنې د هغۀ مور د تور رنګ والا وه نو ما هغۀ له دا پیغور ورکړو)۔ کله چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې خبرې نه خبر شو نو

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: **يَااَبَاذَرٍّ اِنَّكَ اِمْرَءٌ فِيْكَ جَاهِلِيَّةٌ** يعني اے ابو ذَره! پۀ تا کښې اوسه پورې د جهالت د (زمانې) والا اثر پاتې دے۔ نور يــې وفرمائيل: دا چې ستا کوم خادِمان (يا غلامان) دي، دا ستا ورونړه دي، الله پاک دوئي ستا ماتحت کړي دي، پس د چا چې کوم ورور د هغۀ ماتحت وي، هغۀ له پکار دي چې ❁ څۀ چې پخپله خوري، هغۀ دې پۀ ماتحت هم خوري ❁ څۀ چې يــې پخپله اغوستي وي، هغه دې ماتحت ته هم اغوندي (دا زما د خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعليم دے، ځکه ما خپل غلام ته هٰغسي جامې اغوستې دي کومې چې مې پخپله اغوستې دي)۔ (1)

**پۀ بعضې روايتونو کښې دي:** هٰغه صحابئ رسول رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د چا سره چې د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ څۀ بحث وغيره شوے وو، هغۀ حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وو، چې کله خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ تربيت وفرمائيلو او اوئې وئيل چې اے ابو ذَره! (تا اِسلام هم قبول کړو، د اِسلام نُور هم پۀ تاسو کښې خۀ پوخ شوے، پۀ اِسلامي اخلاقو او ادابو باندې تاسو ښائسته شوي هم يئ خو د) جهالت د (زمانې) د يو خاصيت اثر لا اوس هم پاتې دے نو هغوئي فوراً د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ خوا لا ړو۔ خپل مخ يــې پۀ زمکه باندې کيښودو او اوئې وئيل: **اے بلاله! تر څو پورې چې تاسو خپله ښپه زما پۀ مخ باندې نۀ وي کيښودې، زۀ به د زمکې نه خپل مخ راوچت نه کړم۔**

الله! الله! د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ فرمان باندې د عمل شوق ته وګورئ! هٰغه يو کمے کوم چې محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وښودلو، د هٰغه کمې د لرې کولو جذبې ته وګورئ! تر کوم حده پورې عاجزي اختياروي، بل اړخ ته حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ هم صحابئ رسول دے، هغوئي به دا خبره څنګه برداشت کوله، نو هغوئي ښپه نۀ کيښودله، **اخر حضرت ابو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ زوره د هغوئي ښپه د خپل مخ سره ولګوله۔** (2)

---

1...فتح الباری، کتاب الایمان، باب المعاصی...الخ، جلد:1، صفحه:117 118، زیرِ حدیث:30 ملتقطاً۔

2...ارشاد الساری، کتاب الایمان، باب المعاصی...الخ، جلد:1، صفحه:160، زیرِ حدیث:30۔

قرآن کے آئینے میں ہستی کے قرینے | تاحدِنظر پھیلے ہیں اَنمول خزینے
ہیں مثل ستاروں کے مِری بَزم کے ساتھی | اَصحاب کے بارے میں یہ فرمایا نبی نے
ہیں آپ کے ہاتھوں ہی سے تراشے ہوئے ہیرے | اِسلام کے دامن میں یہ تابَندہ نگینے
بے ان کی محبّت کے سفر صرف تھکن ہے | منزل کوئی پائے گا نہ پائی ہے کسی نے

*-*-*-*

هر صحابِي نبي! جَنَّتي جَنَّتي
تولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي
والدين د نبي جَنَّتي جَنَّتي
هره زَوجۀِ نبي جَنَّتي جَنَّتي[1]

# اِسلام کښې د مزدورانو حقونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ يکم مئي ټوله دُنيا کښې **د مزدورانو ورځ** (***Labour Day***) پۀ توګه نمانځلے شي- پۀ عالمي سطح پۀ ډسکس(***Discus***) کيدونکو غټو غټو مسئلو د کومو چې څۀ مستقل حل (***Proper solution***) اوسه پورې دُنيا نۀ دے راويستلے، پۀ دې کښې يوه اهمه مسئله **د مزدورانو د حقونو** هم ده- پيړۍ تيرې شوې ❁ لوئي لوئي فلسفيان (***Philosopher***) راغلل ❁ لوئي لوئي عقلمندو پرې سوچونه وکړل ❁ احتجاجونه وشول ❁ انقلابونه راغلل ❁ لوئي لوئي نظريې پيش کړے شوې خو مزدوران چې پرون څومره مجبور وو، نن هم هغه همره مجبوره پۀ نظر راځي ❁ هغه مزدوران د چا پۀ محنت چې ټول قام پاللے کيږي، د هغۀ بچِپل نغري کښې وور نۀ بليږي ❁ هغه مزدوران د چا پۀ محنت چې سرمايه دار ورځ تر ورځه مالداره کيږي، هغه مزدوران خوارن د غريبۍ پۀ جرنده کښې دَل کيږي او مړه کيږي ❁ هغه مزدوران د چا د محنت پۀ وجه چې معاشره ترقي کوي، هم هغه معاشره هغه مزدورانو ته پۀ درنه سترګه نۀ ګوري، نن هم پۀ ټوله دُنيا کښې پۀ د جبري مشقت (يعني مزدورانو له د اُجرت نۀ ورکولو، پۀ زوره پۀ

---

1...وسائلِ فردوس، صفحه:53 ملتقطاً-

مزدورانو باندې د محنت کولو او د اُجرت خوړلو) پيښې په زرګونو کښې نۀ بلکې په لکونو کښې دي- چا شاعر وئيلي وو:

شہر میں مَزْدُور جیسا دَر بَدَر کوئی نہیں | جس نے سب کے گھر بنائے، اس کا گھر کوئی نہیں

دا حقيقت دے، تاسو په ښارونو کښې وګرځئ، تاسو ته به غټې غټې ودانۍ په نظر راشي، غټې غټې بنګلې، قلعه ګاني به وينئ، د دې غټو غټو ودانو د جوړولو د پاره چې چا محنت کړے وي، په اوګو باندې يې خختې وړې وي، جامې يې په خاورو او خَټو باندې ګنده کړې وي، د هغوئي کوڅو ته لاړ شئ نو واړۀ واړۀ کورونه، ژړيدونکي ماشومان، سارۀ پراتۀ نغري به په نظر راځي- چا ډير په سادګۍ سره د الله پاک په بارګاه کښې عرض کړے دے :

تُو تَو خَالِق ہے، تجھ سے کیا پَرْدَہ | کل سے بچوں نے کچھ نہیں کھایا

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا حقيقت دے، په دې ترقي يافته وخت کښې هم د خواري کښو داسې حالات دي، واقعي چې شته، مونږ ته به په خپلو ښارونو، کلو کوڅو کښې په زرګونو داسې سپين ږيري ميلاؤ شي څوک چې شپه ورځ محنت کوي او وَچه سَړۀ ډوډۍ خوري او ګزاره پرې کوي-

## اِسلام او د مزدورانو حقونه

خو اَلْحَمْدُلِلّٰه! اِسلام يو کامِل او اَکمل دِين دے، لوئي لوئي فلسفيانو چې د پيړو راسې د سوچ کولو باوجود هم کوم کار ونکړے شو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دِينِ اِسلام د نن نه څوارلس نيمه سوه کاله مخکښې د مزدورانو، اجيرانو او د خواري کښو حقونه ښودلي وو-

مونږه اوس د بخاري شريف په حوالې سره د حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ واقعه واوريدله، په دې کښې د يو غُلام ذِکر دے، دا په ذِهن کښې ساتئ چې مزدور بيل وي او غلام بيل وي، په مزدور او په غُلام کښې د زمکې او د اسمان فرق دے، مزدور يو

ازاد انسان وي، هغهٔ خپل ځان نهٔ بلکې چې تر څومره وخته پورې هغهٔ کار کوي، خپل هٔغه همره وخت خرڅوي، پهٔ بدل کښې مزدوري اخلي، کله چې د هغهٔ د کار وخت ختم شي نو بیا هغهٔ ازاد دے پهٔ خپله خوښه چې څهٔ کول غواړي کولے یې شي خو پخوا چې به کوم غلامان وو، هغوئي به باقاعده د بازار نه پهٔ پیسو اخستے کیدل، د حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ واقعه کښې د غُلام ذِکر دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلام حقونه بیان کړل او اوئې فرمائیل: دا چې ستاسو کوم غلامان دي، دا ستاسو ورونړه دي- الله پاک دوئي ستاسو ماتحت کړي دي، پس د چا چې کوم ورور ماتحت وي، هغهٔ له پکار دي چې ❀ څهٔ پخپله خوري هغهٔ پهٔ ماتحت باندې هم خوري ❀ څهٔ چې پخپله اغوندي هغهٔ ماتحت ته هم اغوندي- (1)

اَللّٰہُ اَکْبَر! د غلامانو د حقونو پهٔ باره کښې دا هٔغه جُملې دي، د کومو چې به کیدے شي چا سوچ هم نهٔ وي کړے، د لوئي لوئي فسلفیانو پهٔ ذهنونو کښې به د دې خیال هم نهٔ وي راغلے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غلامانو او د خادمانو پهٔ باره کښې ترغیب فرمائي چې ستاسو چې کوم ورونړه ستاسو ماتحت دي، هغوئي بالکل د ځان نه کم تر مهٔ ګڼئ، که څوک آقا دے که غلام، سیټهـ دے که نوکر، ټول د حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام اولاد دے، ځکه ټول ورونړه دي، ځکه د خپل غلام، د خپل نوکر، د خپل ملازم سره هٔغه سلوک وکړئ! کوم چې د خپل ورور سره کولے شي، هغوئي له هم هٔغه څهٔ د خوراک د پاره ورکړئ کوم چې پخپله خورئ، هغوئي له هم د اغوستو د پاره هٔغه څهٔ ورکړئ څهٔ چې پخپله اغوندئ---!!

سُبْحٰنَ الله! دا صرف د وئیلو تر حده پورې نهٔ دي، صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم پهٔ دې باندې عمل هم وکړو او اوئې ښودل، حضرت اَبُو ذَر غفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے، د

---

1...فتح الباری، کتاب الایمان، باب المعاصی...الخ، جلد:1، صفحه:117 118، زیرِ حدیث:30 ملتقطاً۔

هغوئي سره خلور کپړې وې، دوه قيمتي وې او دوه د کم قيمت والا وې، داسې کيدے شو چې د دوو قيمتي کپړو نه هغوئي ځان له جامې جوړې کړے وے او غلام له يـې د کم قيمت والا جامې ورکړې وے خو هغوئي د اِسلام پۀ تعليماتو باندې عمل وکړو، يوه قيمتي کپړه يـې پخپله واغوستله، بَله يـې غلام ته واغوستله۔

اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ دا اِسلام دے کوم چې مونږ له د مساواتو (يعنې د برابرئ او د انصاف) درس راکوي ❁ دا اِسلام دے کوم چې د هرې طبقې خلقو ته د هغوئي لائق حقونه عطا کوي ❁ دا اِسلام دے کوم چې هر يو ته د عزت ژوند عطا کوي۔

## د کعبې پۀ چت باندې اذان

د اِسلامي تاريخ دا ښکلې واقعه به کيدے شي تاسو مخکښې هم اوريدلې وي، د فتح مکې موقع وه، هغه ښار د چرته نه چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هجرت کړے وو، هغه کوڅې چرته چې پۀ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پۀ خپل ځان قربانونکو يعنې صحابۀ کرامو رَضِىَ اللهُ عَنْهُم باندې ظلمونه شوي وو، هغه کورونه، هغه کوڅې چرته چې د مسلمانانو ژوند ګران شوے وو، پۀ نهمه هجرئ (يعنې د مدينے منورې د هجرت نه نهه کاله پس) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دهغه کوڅو، هغه محلو، هغه د مکې مکرمې د ښار فاتح جوړشو او تشريف يـې راوړلو، هغه ښار د کفر او د شرک د ګند نه پاک کړے شو، کعبه شريفه کومه چې د جهالت پۀ زمانه کښې پۀ شِرک باندې ګنده کړے شوې وه، يو ځل بيا هغه د توحيد مرکز جوړ کړے شو، پۀ دې موقع باندې د مکې مکرمې لوئي لوئي سرداران موجود وو خو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت بِلال رَضِىَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړو--!! کوم بِلال--؟ ❁ کوم چې غير مسلمو پۀ زنځيرونو باندې ترلے وو ❁ کوم چې پۀ مکه مکرمه کښې تنګ کړے شوے وو ❁ کوم چې پۀ تودو شَګو باندې سملولے شوے وو او درنې ګټې پرې اېښودے

شوې وې ✿ کوم چې په مکه مکرمه کښې په کاڼو باندې ویشتلے شوے وو، هٰغه حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ --!! نن خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته حکم وکړو: اے بِلاله--!! نن د کعبې چت ته وخیژهٔ او اذان وکړه--!! [1]

اذاں اَزَل سے ترے عشق کا ترانہ بنی | نماز اُس کے نظارے کا اِک بہانہ بنی

**وضاحت:** یعني د دې کائنات په وجود کښې د راتلو نه مخکښې اذان ته د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عشق ظاهرولو د تراني حیثیت حاصل شوے وویعني د روزِ ازل نه دا مقرره وه چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اسلام اولنے مؤذن جوړیږي او نمونځ د حضور د زیارت یوه بهانه جوړه کړے شوه-

خیر! حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د کعبې چت ته وختلو، اذان یې شروع کړو، د مکې مکرمې لوئي لوئي سردارانو دا عجیبه منظر په خپلو سترګو باندې لیدلو، د هغوئي په ذهنونو کښې خیال راتلو چې پرونے غلام نن د کعبې په چت باندې اذان کوي (دا سعادت خو کوم د اوچتې مرتبې ګس ته میلاؤیدل پکار وو)، د هغوئي په ذهنونو کښې دا وسوسې راتللې چې حضرت جبریل عَلَیۡہِ السَّلَام حاضر شو، د قرآنِ کریم دا آیت مبارک نازل شو، الله پاک فرمائي: [2]

| | |
|---|---|
| اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰىكُمْ ؕ<br>(پارہ:26، سورۂ حجرات:13) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** بے شکه د الله په نزد په تاسو کښې زیات عِزَّت والا هغهٔ دے څوک چې په تاسو کښې زیات پرهیزګار دے- |

لکه چې په دې پوهه کړے شو چې اے خلقو--!! په اِسلام کښې د عزتونو معیار ✿ نهٔ په آقا کیدلو باندې دے ✿ نهٔ په غلام کیدلو باندې دے ✿ نهٔ په سیټھ جوړیدو باندې دے ✿ نهٔ په نوکر کیدو باندې دے- د عزتونو معیار--!! ✿ نهٔ په عهده ✿ نهٔ په

1... شرح الزرقانی علی المواہب، باب غزوۃ الفتح الاعظم، جلد:3، صفحہ:484 بتصرف۔
2... اسباب النزول للواحدی، صفحہ:304، رقم:816 بتصرف۔

منصب ❀ نۀ پۀ نوم او نسب باندې دے ❀ نۀ پۀ مال او دولت باندې دے ❀ نۀ پۀ ظاهري حیثیت (*Status*)...!! باندې دے- د الله پاک پۀ نزد د عزت معیار صرف او صرف پۀ تقویٰ باندې دے، څوک چې تقویٰ دار دے نو هغۀ عزت والا دے، څوک چې تقویٰ دار نۀ دے، هغۀ که پۀ ظاهره هر څومره د اوچتې مرتبې والا وي، د الله پاک پۀ نزد د عزت والا نۀ دے- سُبْحٰنَ الله! دا دے د اِسلام حُسن---!!

## د اَرَسطُو عجیبه او ناشنا نظریه

تاسو به پۀ دې خبره اوریدو ډیر حیران شئ چې اَرسطُو چا ته چې انګریزان اَرَسټوټَل (*Aristotle*) وائي، دا د یُوناني فلسفې باني دے، یعني اوسنے چې کوم سائنس دے، دا اَرسطُو شروع کړے وو، بعضې خلق پۀ اِسلام باندې دا الزام لګوي چې اِسلام خپل تعلیمات د یوناني فلسفې نه پټ کړي دي (مَعَاذَالله---!)- لږه د اَرَسُطو دا عجیبه نظریه واورئ! ارسطو د غُلام او د مزدور تعریف کړے دے او لیکلي یې دي: **دا یوه آله ده پۀ کومه کښې چې ساه ده-** [1]

یعني غلامان، مزدوران، خواري کښ خلق د اَرَسطُو پۀ نزد صرف مشینان دي، مَعَاذَالله! دا د انسان وئیلو حقدار هم نۀ دي- لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِالله!

قُربان شم! اِسلام چې کله د غلامانو، د مزدورانو حقونه بیانوي نو د ټولو وړومبے خبره هم دا کوي چې غُلام وي او که آقا، سیټھ وي او که نوکر، مزدور وي او که مالداره، د انسان پۀ حیث دواړه برابر دي- اَلْحَمْدُ لِله! دا د اِسلام حُسن دے-

## مزدوران کم مۀ ګڼئ---!!

خو افسوس چې نن زمونږه پۀ معاشره کښې هم دا د غیر مسلمو رویه مخ پۀ وړاندې روانه ده، خلق مزدوران، خواري کښ، غریبانان کم ګڼي، دوئي ته سپک نظر کوي-

1...ضیاء النبی، جلد:1، صفحه:110-

بعضې وخت ✿ لوفران قِسمه څوانان په دوئي پسې ټوقې کوي ✿ د دوئي د جامو په باره کښې ✿ د دوئي د ژوند ژواک په باره کښې دوئي له پيغورونه ورکوي ✿ غريب غريب ورته وئيلے کيږي او په دوئي پورې ټوقې کولے شي- اَستَغفِرُ الله! دا ډيره بده خبره ده، ډيره زياته بده خبره ده- د داسې انداز سره به يقيناً چې د دوئي زړونه ازاريږي او ياد ساتئ چې د مسلمان انسان زړۀ ازارول کبيره ګناه، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- (1) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ اٰذٰى مُسۡلِمًا فَقَدۡ اٰذَانِىۡ چا چې يو مسلمان له تکليف ورکړو، هغۀ ما له تکليف راکړو وَمَنۡ اٰذَانِىۡ فَقَدۡ اٰذَى الله او چا چې ما له تکليف راکړو (لکه چې) هغۀ الله پاک ته تکليف ورسولو- (2)

خدايا! کسی کانہ دل میں دکھاؤں | اماں تیرے اَبدی عذابوں سے پاؤں

## په داسې قِسمه سودا کښې تاوان نۀ نشته

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلي انداز مبارک ته وګورئ! الله پاک په قرآنِ کريم کښې هغوئي ته حکم وکړو:

وَ اصۡبِرۡ نَفۡسَكَ مَعَ الَّذِيۡنَ يَدۡعُوۡنَ رَبَّهُمۡ بِالۡغَدٰوةِ وَ الۡعَشِىِّ يُرِيۡدُوۡنَ وَجۡهَهٗ

(پاره: 15، سورۀ کهف: 28)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او خپل ځان هٰغه خلقو سره عادت ساته کوم چې سحر او ماښام خپل رب يادوي د هغۀ رضا غوښتلو د پاره-

✿ حضرت بِلال ✿ حضرت صُهَيب رُومي ✿ حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم وغيره هٰغه صحابهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم دي کومو چې مخکښې د غلامۍ ژوند تير کړے وو، دا آيت مبارک د هٰغه صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم په حق کښې نازل شو، الله پاک د دغه صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُم په باره

1...غیبت کی تباہ کاریاں، صفحہ:444-
2...معجم اوسط، جلد:2، صفحہ:386، حدیث:3607-

کښې خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته وفرمائیل: اے محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! خپل ځان د دغه صحابهٔ کرامو [رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم] سره عادت ساتئ---!! حضرت خَبَّاب رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: مونږ به چې بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضریدلو نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زمونږ سره تشریف فرما کیدلو، تر څومره وخته پورې چې به یې اراده فرمائیله تشریف فرما به وو، بیا به چې یې څهٔ ضرورت شو نو مونږ به یې هلته پریښودو او تشریف به یې یوړلو- بیا چې کله دا آیت مبارک نازل شو، د دې نه پس حالت دا شو چې خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به زمونږ سره تشریف فرما وو، مونږ که به پخپله اجازت اخستو نو اخستو به مو کني حُضُور [صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] به داسې چرته هم نه کولو چې مونږ به یې ناست پریښودو اوهغوی به رانه لاړل- (1)

دامنِ مصطفٰے سے جو لپٹا یگانہ ہو گیا | جس کے حُضُور ہو گئے اس کا زمانہ ہو گیا

## د مزدورانو سره مینه کوئ---!!

دا چې کوم خواري کښ، مزدوران خلق وي، چې کله دوئي خپل کار کوي، ظاهره ده چې ډیر محنت کوي، جامې یې هم ګنده کیږي، بعضې وخت خو پرې خوله هم راځي، داسې یې ظاهري شکل څهٔ بَل شان شي، بعضې خلق د هغوئي پهٔ داسې حالت پسې هم توقې کوي، د هغوئي د ګنده جامو پهٔ وجه د هغوئي نه کرکه کوي، دا هم د زړهٔ ازارئ والا انداز دے- **پهٔ روایتونو کښې دي:** کوم صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم چې خواري کښ وو، ډیر د محنت والا کار به یې کولو، بعضې وخت به د هغوئي د مبارکو جامو نه د خولې بوئي راتللو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ داسې حالت کښې هم د هغوئي سره نزدې تشریف فرما کیدلو- یو ځل نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشریف راوړلو، صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ناست وو د الله پاک ذِکر یې کولو، (د محنت وغیره پهٔ وجه) پهٔ هغوئي کښې

1...تاریخ مدینه دمشق، جلد:10، صفحه:447تا448-

د بعضو وينبته کډ وَډ وو، څرمنې يـې وَچې شوې وې، د بعضو سره د اغوستو د پاره صرف يوه کپړه وه (په هغې باندې يـې خپل سَتر پټ کړے وو)، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، د هغوئي سره کښيناستو او اوئې فرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِيْ اُمَّتِيْ مِنْ اَمَرِيْ اَنْ اَصْبِرَ نَفْسِيْ مَعَهُمْ ټول تعريفونه الله پاک لره دي کوم چې زما په اُمت کښې داسې خلق پيدا کړل، د چا سره چې د زړهٔ د لګولو ما ته حکم شوے دے۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک انداز--!! نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خوارې کښو څومره عزت کولو، د هغوئي سره به کښيناستو، د هغوئي زړونه به يـې ساتل او د هغوئي سره به يـې د مينې اِظهار فرمائيلو۔ مونږ له هم پکار دي چې غريبانان او چې کومه مزدوره طبقه ده، مونږه د هغوئي عزت وکړو، د هغوئي قدر وکړو۔

## مزدُور کيدل بده خبره نهٔ ده

دا خبره ياد ساتئ چې غريب کيدل، مزدور کيدل، ملازم کيدل بده خبره نهٔ ده، په دې باندې شان نهٔ کميږي، د حلال رزق د ګټلو د پاره محنت مزدوري کول خو ډيره د فضيلت خبره ده۔ يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، صحابهٔ کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم هم حاضر وو۔ په دې کښې يو ښکلے او طاقتور ځوان په تيزو قدمونو اخستو په هغه ځائے تير شو، په دې باندې صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم ووئيل: کاش چې دهٔ خپله ځواني د الله پاک په لاره کښې لګولې وه۔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: ❁ که دا د خپلو نا بالغه ماشومانو د پاره ګټې له راوتلے دے فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نو دا د الله پاک په لاره کښې دے ❁ که د بوډا مور پلار د پاره په رزق لټولو کښې دے فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نو بيا هم د الله پاک په لاره کښې دے ❁ که ځان د سوال نه د بچ کولو د پاره راوتلے دے فَهُوَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ نو بيا هم د الله پاک په لاره کښې دے۔ (2)

---

1...تفسير طبری، پارہ:15، سورۂ کهف، زيرِ آيت:28، جلد:8، صفحه:214، رقم:23017۔
2...معجم کبير، جلد:8، صفحه:160، حديث:15619۔

معلومه شوه چې د ضرورت مطابق خواري مزدوري کول، د حلال رزق ګټلو د پاره مندېې ترړې وهل هم عِبادت دے۔

## د جنَّت او د دوزخ مکالمه

**پۀ يو حديثِ پاک کښې دي:** د دوزخ او د جنَّت ترمينځه بحث وشو (يعني پۀ خپل مينځ کښې د دوارو خبرې اترې وشوې)، دوزخ ووئيل:ماته د ظالمانو او متکبره خلقو سره فضيلت راکړے شوےدے(يعني زۀ هٔغه يم، پۀ کوم کښې چې به ظالِمان او تکبر کوونکي خلق اچولے کيږي،) جنَّت ووئيل: زۀ هٔغه يم پۀ کوم کښې چې به کمزوري او غريبانان خلق داخلولے شي۔ (1)

تاج و تخت و حکومت مت دے | کثرتِ مال و دولت مت دے
اپنی رِضا کا دے دے مُژدہ | یااللّٰہ! مِری جھولی بھر دے( 2 )

## د ذِلت پۀ ځائے کښې ودريدل

حضرت ابراهيم بن اَدهَم رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَيۡه فرمائي: ما ته دا خبره رارسيدلې ده چې کوم بنده د حلال رزق پۀ لټون کښې د ذِلت پۀ ځائے کښې ودريږي، **د هغۀ د پاره جنَّت واجِب شي۔** (3)

## ستا پيشه مُبارکه ده

د حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهما نه روايت دے: يو ځل يو ګَس پۀ بارګاهِ رسالت کښې حاضر شو او عرض يې وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زما د پيشې پۀ باره کښې تاسو څۀ ارشاد فرمايئ؟ اوئې فرمائيل: څۀ کار کوې؟ عرض يې وکړو: زۀ کپړې جوړووم (پۀ پينتو کښې چې کوم ته جولا وئيلے کيږي)- رسولِ هاشمي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1...مسلم، کتاب الجنة، باب النار يدخلها...الخ، صفحه:1092، حديث:2846۔

2...وسائل بخشش، صفحه:123۔

3...احياء العلوم، كتاب آداب الكسب و المعاش، الباب الاول...الخ، جلد:2، صفحه:81۔

وفرمائيل: ستا پيشه د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام والا ده، د ټولو نه مخکښې چې چا کپړې جوړې کړې هغۀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام دے، بے شکه ستا پيشه ځغه ده، د کومې ضرورت چې د ژوندو سره سره مړو ته هم وي (چې هغوئي ته کفن اغوستلے کيږي)- څوک چې تا له (ستا د پيشې پۀ وجه پيغور درکوي او) تکليف در رسوي، هغۀ لکه چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام له پيغور ورکوي، مۀ ويريږۀ! ستا د پاره زيرے دے چې ستا پيشه مبارکه ده، د قيامت پۀ ورځ به حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ستاسو قائِد وي- (1)

الله پاک دې مونږ ته ښه سوچ راعطا کړي، کوم خوش قِسمته چې د ځان او د خپل بال بچ د رزق ګټلو د پاره حلاله پيشه اختيار کړي، هغۀ ښه انسان دے، نيک کار کوي، مونږ له پکار دي چې هغۀ له ډاډګيرنه ورکړو، که کولے شو نو د هغۀ سره مدد وکړو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پۀ برکت به معاشره ښه شي او بے روزګاري به ختمه شي-

## جبري مشقت يو سخت جرم دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مزدورانو، د ملازمانو او د اجيرانو چې کوم حقونه اِسلام بيان کړي دي، پۀ هغې کښې يو دا دے چې **مزدور له د هغۀ مزدوري پۀ وخت او پوره پوره ورکړے شي-**

لکه څنګه چې ما مخکښې عرض وکړو: دا وخت پۀ ټوله دُنيا کښې د جبري مشقت پيښې ډيرې زياتې دي، د يوې عالمي ادارې (***International Organizations***) د رپورټ مطابق پۀ ټوله دُنيا کښې پۀ لکونو خلقد جبري مشقت ښکار دي (يعنې کوم چې زورور دي، هغوئي د خلقو نه پۀ زوره کار اخلي او اُجرت پوره نۀ ورکوي)، پۀ دې غير قانوني عمل کښې ککړ خلق د کال 236 اربه ډالره ګټه حاصلوي-

يعنې دا 236 اربه ډالره د کال ځغه دي کوم چې د خوارانو مزدورانو حق دے خو هغوئي

---

1...البرکة فی فضل السعی و الحرکة، الباب الاوّل...الخ، صناعات الانبياء، صفحه:46-

ته نهٔ رسولے کيږي، پهٔ نا جائزه طريقه خوړلے کيږي- اَلاَمَان وَالحَفِيظ---!!

## اُجرت د مخکښې نه ورکړئ---!!

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله يو اَجير پهٔ اُجرت باندې ساتئ نو د هغهٔ اُجرت ورته هم د مخکښې نه ووايئ- (1)

دا د اُجرت پهٔ باره کښې يو حکم دے چې کله څوک اَجير ساتي نو د هغهٔ اُجرت د مخکښې نه ټاکل پکار دي، اوس د دې نه دا مهٔ ګڼئ چې پهٔ غټو غټو کارخانو کښې چې کوم ملازمان ساتلے کيږي، دا د هغوئي پهٔ باره کښې خبره کيږي، مونږه تقريباً روزانه د يو بَل سره اجاره کوو، مثلاً ❁ چرته د تللو د پاره رکشه کوو، ګاډے کوو، د هغهٔ سره به د مخکښې نه اُجرت ټاکلے کيږي ❁ پهٔ ريلوے سټيشن (***Railway station***) وغيره کښې خلق پهٔ قُلِي (مزدور) باندې سامان وړي، د هغهٔ سره به هم د مخکښې نه اُجرت ټاکلے کيږي ❁ پهٔ کور کښې پهٔ چا باندې کار کول دي، مونږه کور ته د بجولو والا (***Electrician***) راغواړو، د اوبو پهٔ نلکو والا (***Plumber***) باندې کار کوو او واړهٔ واړهٔ کارونه کولے شي ❁ پهٔ کور کښې اِستري خرابه شوه، پکے خراب شو، اے سي ټيک کوو ❁ د اے سي رِي فلنګ (***Refilling***) کولے شي، وغيره قِسما قِسم کارونه کولے شي، دا چې کوم کارونه دي، د دې به هم اُجرت د مخکښې نه ټاکلے کيږي-

بعضې وخت څهٔ کيږي؟ دُکاندار، رکشے والا، ګاډي والا صرف هسې ووائي: څهٔ چې مناسب وي راکړئ- دا صحيح خبره نهٔ ده، باقاعده به اُجرت ټاکلے کيږي- ځکه چې کله هم د چا سره اِجاره کوئ، پهٔ کرايه باندې څيز راخلئ، پهٔ چا مکينک (***Mechanic***)، مستري، مزدور باندې کار کوئ نو باقاعده طور کار او اُجرت دواړه وټاکئ چې ورروه! دا کار دے- د دې به زهٔ دومره پيسې درکووم- داسې هر څهٔ وټاکئ او بيا کار وکړئ- (2)

---

1... مسند ابو حنيفه، من مراسيل ابراہيم، صفحه:90-

2... حلال طريقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول، صفحه:20-

## اُجرت په وخت باندې ورکړئ---!!

دويم حديثِ پاک واورئ! رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د مزدور د خولې وچيدو نه مخکښې د هغهٔ مزدوري ادا کړئ--!! (1)

دا ډير ضروري څيز دے، د چا مال په نا جائزه نيول سخت جرم، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے- مالِکِ جنَّت، قاسِمِ نعمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اللّٰه پاک ارشاد فرمائي: زهٔ به د قيامت په ورځ د دريو کسانو مقابل يم (يعني سخته سزا به ورکووم) (1): يو هغه کَس کوم چې زما په نوم باندې وعده وکړي، بيا وعده ماته کړي (2): هغه کَس کوم چې يو ازاد انسان خرڅ کړي او بيا د هغهٔ قيمت وخوري (3): هغه چا چې يو مزدور په اُجرت باندې ونيولو او بيا يې په هغهٔ باندې کار پوره کړو خو د هغهٔ اُجرت يې هغهٔ له ورنکړو- (2)

اَللّٰهُ اَکْبَر--!! اندازه ولګوئ چې د قيامت په ورځ به رَحم څوک کوي؟ اللّٰه پاک- بخښل به څوک کوي؟ اللّٰه پاک- جنَّت به څوک عطا کوي؟ اللّٰه پاک- که اللّٰه پاک د چا مقابل شي، غور وکړئ! هغه کَس به څنګه بخښلے کيږي--؟ څکه په وخت د مزدور د اُجرت د ادا کولو عادت جوړول پکار دي-

## د اللّٰه پاک د عدل مثال

د اللّٰه پاک نبي دے: حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام- يو ځل هغوئي د اللّٰه پاک په بارګاه کښې عرض وکړو: اے کريم مالکه! زهٔ ستا عدل او انصاف ليدل غواړم- اوئې فرمائيل: اے موسیٰ! تاسو به يې اونه ليدلے شئ- عرض يې وکړو: مولیٰ! تهٔ په ښودلو باندې قُدرت لرې- اوئې فرمائيل: ځهٔ! بيا فلانکي ځائے د درياب غاړې ته لاړ شئ! او هلته پټ

1...ابن ماجه، کتاب الرهون، باب اجر الاجر، صفحه:392، حديث:2443۔

2...بخاری، کتاب البيوع، باب اثم من باع حراً، صفحه:573، حديث:2227۔

کښېنئ او زمونږه عدل ووينئ! حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام هُغه ځائے ته لا ړو، د جاځو وغيره شا ته پټ کښيناستو او انتظار يـې کوو- په دې کښې يو مالداره ګس راغلو، په اَس باندې سور دے، په لاس کښې يـې د پيسو نه ډک بيګ (**Bag**) دے، هغۀ د درياب خوا ته راغلو او ودريدو، د خپلو پيسو بيګ يـې يو طرف ته کيښودو، د درياب په اوبو باندې يـې مخ لاسونه وينځل او په اَس باندې کښيناستو او روان شو- د پيسو بيګ کوم چې هغۀ يو طرف ته ايښودے وو، هغه راخستل ترينه هير شو- لږ وخت پس هلته يو ماشوم راغلو، هغۀ بيګ وليدو، په بيګ کښې يـې دننه پيسې وليدلې نو بيګ يـې راواخستو او کور ته يـې يوړلو-

لږ وخت تير شوے وو چې يو ړوند بوډا ګس هلته راغلو، هغۀ په ستړګو باندې څۀ نۀ ليدل، هغۀ د درياب په اوبو باندې مخ لاسونه ووينځل او د ارام کولو د پاره په يو ځائے کښې سملاستو- په دې کښې هُغه مالداره ګس د کوم چې بيګ وو، چې کله هغۀ ته رایاد شو چې ما خو بيګ د درياب په غاړه باندې پريښودے دے نو هغۀ واپس راغلو، دلته صرف دا ړوند بوډا وو، مالداره ګس د بوډا نه پوښتنه وکړه: آيا تا دلته زما بيګ ليدلے دے؟ بوډا ووئيل: زۀ خو ړوند يم، ما بيګ نۀ دے ليدلے- هُغه مالداره ګس غصه شو او اوئې وئيل: تۀ دروغ وائې، تا بيګ راخستے دے، زر ووايۀ چې بيګ چرته دے، ګنې مړ کوم دې - بوډا منت زاري شروع کړه چې وروره! ما ستا بيګ نۀ دے ليدلے، زۀ خو ړوند يم- هُغه مالداره ګس د بوډا خبره نۀ اوريدله او په غصه کښې يـې هُغه بوډا مړ کړو-

دا منظر يـې چې وليدلو نو حضرت موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام ډير حيران شو چې دا څنګه انصاف دے؟ د بوډا ګس خو هيڅ قصور هم نۀ وو، هغۀ خو هسې بر ناحقه ووژلے شو- اللّٰه پاک وحي راوليږله، اوئې فرمائيل: اے موسیٰ عَلَيۡهِ السَّلَام دا زما انصاف دے، معامله په اصل کښې داسې ده هُغه چې کوم ماشوم وو، د هغۀ پلار به د دې مالداره ګس سره مزدوري کوله، هُغه مالداره ګس ډيره موده هغۀ له مزدوري نۀ وه ورکړې، په بيګ کښې چې

کوم رقم وو، پهٔ اصل کښې هغه د هغهٔ د مزدورۍ پیسې وې، کومې چې دې مالداره ګس ایسارې کړې وې- نو د هغه مزدور ګټه د ماشوم پهٔ ذریعه د هغهٔ کور ته ورسیدله- کوم چې بوډا وو، هغهٔ پهٔ خپله ځوانۍ کښې د دې مالداره ګس پلار وژلے وو، نن د هغه قتل پهٔ بدل کښې دا ټخپله ووژلے شو- داسې مزدور ته د هغهٔ مزدوري هم میلاؤ شوه او قاتل ته د هغهٔ سزا هم میلاؤ شوه- (1)

اَللّٰهُ اَکْبَرْ! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے د الله پاک عدل او انصاف---!! څوک چې ځان طاقتور ګڼي، د خپلې عهدې، منصب، مال او دولت او طاقت وغیره پهٔ بنیاد د نورو حقونه خوري، هغوئې ته یاد ساتل پکار دي چې الله پاک اَحْکَمُ الْحَاکِمِیْن دے، د بادشاهانو نه لوئي بادشاه دے، پهٔ قرآنِ کریم کښې دي:

| | |
|---|---|
| وَهُوَالْقَاهِرُفَوْقَ عِبَادِهٖ<br>(پارہ:7، سورۂ انعام:61) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هُم هغهٔ پهٔ خپلو بندګانو غالِب دے- |

د الله پاک سره د هر څهٔ اختیار دے، هغه رَبِّ کریم که چرې راګیر موکړي نو زهٔ او تاسو خو څهٔ چې د نمرود او فرعون پهٔ شان طاقتور بادشاهان هم هیڅ اهمیت نهٔ لري---!! څکه د چا حق مهٔ خورئ، سرونه ښکته کړئ او د عاجزۍ نمونې جوړې شئ- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## د وَس مطابق کار اخلئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د مزدور پهٔ حقونو کښې یو حق دا هم دے چې **هغهٔ له د هغهٔ د وَس مطابق کار ورکړے شي**، که پته ولګي چې کار ډیر وزن دار دے، د ډیر طاقت والا دے، داسې کار که مزدور له ورکړے شي هم نو ورسره د هغهٔ مدد هم کوئ- **پهٔ حدیث شریف کښې دي**: غلام له د څهٔ داسې کار ذمه واري مهٔ ورکوئ کوم چې د هغهٔ د پاره ګران

1...التبر المسبوک فی نصیحة الملوک، صفحه:54-

وي که د څۀ داسې کار ذمه واري ورته وسپارئ نو بيا پخپله هم د هغۀ مدد کوئ- (1)

## د دوچنده خوارئ نه يې بچ کړو

صحابئ رسول دے: حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ- حضرت اَبُو قَلابه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه فرمائي: يو ځل يو کَس د حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ خدمت کښې حاضر شو، هٰغه وخت حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وړۀ اخکل، هٰغه کَس پۀ حيرانتيا سره ووئيل: عالي جاه! دا څۀ دي؟ (يعنې تاسو پخپله باندې وړۀ اخکئ؟) اوئې فرمائيل: ما خادم پۀ څۀ کار پسې ليږلے دے، ما ته ښه نۀ ښکاري چې زۀ هغۀ ته دوه کارونه جمع کړم- (2)

## هٰغه همره ثواب به ليکلے کيږي

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے انداز دے- وړۀ اخکل د خادم پۀ ذمه وو خو حضرت سلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ خادم پۀ يو بَل کار پسې ليږلے وو نو د هغۀ د حصې کار يې پخپله کولو چې خادم د دوچنده خوارئ نه بچ شي- سُبۡحٰنَ اللّٰه! مونږ له هم دا انداز اختيارول پکار دي- پۀ حديثِ پاک کښې دي: تاسو چې د خپل خادم پۀ عمل کښې څومره کمے کوئ ستاسو پۀ اعمال نامه کښې به هم هٰغه همره ثواب ليکلے کيږي- (3)

## خادِم معاف کوئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږه انسانان يو او انسان د نِسيَان [يعنې غلطو] نه جوړ دے، زمونږ پۀ شان د عامو انسانانو نه غلطيانې کيږي، لکه څنګه چې زمونږ نه غلطيانې کيږي، هم داسې زمونږه د خادم، اَجير وغيره نه هم غلطي کيدے شي، ځکه مونږ ته د هغوئي د معاف کولو عادت جوړول پکار دي، دا هم د مزدورانو پۀ حقونو کښې دي- د

1...مسلم، کتاب الایمان، باب اطعام المملوک...الخ، صفحه:652، حديث:1661۔
2...الزُّہد لامام احمد بن حنبل، صفحه: 177، حديث: 841۔۔
3...ابن حبان، کتاب العتق، باب ذکر کتبة الله...الخ، صفحه:1171، حديث:4314۔

حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُما نه روايت دے چې يو ګس د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو او عرض يې وکړو: يا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زۀ څو کرته خپل خادم معاف کووم؟ نو نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: هره ورځ 70 کرته۔ (1)

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: په عربۍ کښې د 70 لفظ د زياتوالي بيانولو د پاره کيږي يعنې هره ورځ هغۀ ډير ځل معاف کوه---!! (2)

## وينزه يې ازاده کړه

حضرت امام زَينُ العابدين رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د حضرت اِمامِ حُسَين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ شهزاده دے، يو ځل د هغوئي وينزې د هغوئي په اودسه کښې مدد کولو۔

په پخوانۍ زمانه کښې به وينزې او غلامان باقاعده خرڅيدل، د دغه وينزو نه به پرده فرض نۀ وه نو د امام زين العابدين رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ وينزې د هغوئي په اوداسه کښې مدد کولو، ناڅاپه د هغې د لاس نه لوښے (لوټه وغيره) پريوتله او د امام زين العابدين رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ مخ پرې ولګيدو، مخ يې زخمي شو۔ امام زين العابدين چې ورته بَره وکتل نو وينزې د قرآنِ مجيد دا آيت ولوستلو:

| | |
|---|---|
| وَ الۡکٰظِمِیۡنَ الۡغَیۡظَ (پاره: 4، سورۂ ال عمران: 134) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او غصه خښلو والا۔ |

امام زين العابدين رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ چې څنګه آيت واوريدو نو اوئې فرمائيل: ما خپله غصه وخښله۔ وينزې د دې آيت بَله حصه ولوستله:

| | |
|---|---|
| وَ الۡعَافِیۡنَ عَنِ النَّاسِ ؕ (پاره: 4، سورۂ ال عمران: 134) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او خلق معاف کوونکي دي۔ |

1... ترمذی، کتاب البر و الصلة، باب ماجاء فی العفو... الخ، صفحه: 477، حديث: 1950۔

2... مراۃ المناجيح، جلد: 5، صفحه: 170۔

امام زين العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: ما د الله پاک د رضا د پاره تهٔ معاف کړې- وينزې د آيت مبارک بله حصه ولوستله:

| | |
|---|---|
| وَ اللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۳۴﴾ (پاره: 4، سورۂ ال عمران: 134) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او الله نيکو خلقو سره محبت فرمائي- |

امام زين العابدين رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: ځه ! تهٔ د الله پاک د رضا د پاره ازاده يې- (1)

## عزت مند څوک؟

الله پاک دې مونږ ته هم توفيق راعطا کړي، د معاف کولو عادت جوړول پکار دي، څوک چې معاف کول کوي، هغهٔ معاف کړے کيږي- حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام عرض وکړو: اے ربِّ کريمه! ستا پهٔ نزد کوم يو بنده د ټولو نه عزت والا دے؟ اوئې فرمائيل: هغهٔ کوم چې د بدلې اخستو د طاقت لرلو باوجود معاف کول کوي- (2)

## د معاف کولو والا بے حسابه بخښنه

د حضرت اَنس بن مالِک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: د قيامت پهٔ ورځ باندې به اعلان کولے شي: د چا اَجر چې د الله پاک پهٔ ذِمّهٔ کرم باندې دے هغوئي دې پاڅي او جنَّت ته دې داخل شي- پوښتنه به وکړے شي: د چا د پاره اَجر دے؟ اعلان کوونکے به وائي: د هغه خلقو د پاره کوم چې معاف کوونکي دي- نو پهٔ زرګونو خلق به ودريږي او بغير د حساب نه به جنَّت ته داخل شي- (3)

الله پاک دې مونږ ته د خواري کښو خلقو، د مزدورانو، خادمانو، اجيرانو او د غريبانانو

1...ابن عساکر، على بن الحسين، جلد: 41، صفحه: 387-
2...شُعَبُ الْاِيمان، باب حسن اِ؛ خلق، فصل فی ترک الغضب...الخ، جلد: 6، صفحه: 319، حديث: 8327-
3...معجم اوسط، جلد: 1، صفحه: 542، حديث: 1998-

د قدر کولو، هغوئي ته پهٔ درنهٔ سترګه د کتلو او د هغوئي سره د ښه سلوک کولو او د هغوئي د حق پوره کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## مزدور له څنګه کيدل پکار دي---؟

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! لکه څنګه چې د مزدورانو بيل حقونه دي، هم دغه شان کوم چې مزدوران دي، پهٔ هغوئي باندې هم ډيرې خبرې لازم دي، دا هم ليدلے شوي دي چې بعضې وخت مزدور او خواري کښ خلق د مالک سره زياتے کوي، مثلاً ❀ کار نهٔ پوره کوي ❀ د کار پهٔ وخت پهٔ ګپونو وغيره کښې مصروف شي ❀ بغير د څهٔ وجهې اخوا ديخوا ګرځي ❀ د غير معياري کار کولو کوشش کوي- دا هم يو جُرم دے، چې کوم ملازم هم وي، اجير وي، که د څهٔ وخت د پاره وي او که مستقل وي، هغهٔ له پکار دي چې پهٔ امانت دارۍ سره کار پوره کړي او معياري کار وکړي- پهٔ قرآنِ کريم کښې دي:

اِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَاْجَرْتَ الْقَوِيُّ الْاَمِيْنُ ﴿۲۶﴾ ترجمهٔ کنزُالعرفان: بے شکه ستاسو بهتر نوکر به هٰغه وي کوم چې طاقتور او امانت دار وي- (پاره:20، سورهٔ قصص:26)

معلومه شوه چې د بهترين اَجِير دوه خوبيانې دي: (1): طاقتور وي: يعنې کوم کار چې د هغهٔ نه اخستے کيږي، د هٰغه کار د کولو صلاحيت پهٔ هغهٔ کښې موجود وي- که صلاحيت پکښې نهٔ وي نو ظاهره ده چې هغهٔ به خپل کار پهٔ ښه طريقه ونکړے شي (2): دويمه خوبي دا چې هغهٔ اَمِين وي، خپل کار پهٔ پوره امانت دارۍ سره، شوق سره، د ډيوټۍ د وخت پهٔ خيال ساتلو سره يې کوي-

مزدور او ملازم له پکار دي چې پهٔ ځان کښې دا دواړه خوبيانې پيدا کړي ❀ د کوم کار د پاره چې اجير ساتلے شوے دے، پکار دي چې د هٰغه کار ډيره تجربه حاصله کړي، د هٰغه کار صلاحيت پهٔ ځان کښې زيات کړي ❀ او ورسره ورسره امانت دار هم اوسي

✿ د کار په لحاظ سره هم امانت دار وي چې څومره کار ورته ورکړے شوے وي، په پوره شوق سره يې پوره کړي ✿ د وخت په لحاظ سره هم امانت دار وي چې د کار وخت څومره ټاکلے شوے دے، ټول وخت کار کوي، اخوا ديخوا نۀ ګرځي، په ګپونو وغيره لګولو کښې نۀ مصروفه کيږي او وخت نۀ بربادوي- الله پاک دې مونږ ته د ښه او د بهترين اجير جوړيدو، هميشه د حلالو د ګټلو او هم د حلالو د خوړلو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

راځئ چې په اخره کښې د حلال رزق ګټلو او د حرام رزق نه د بچ کيدو په باره کښې يو څو حديثونه مبارک واورو:

## د حلال رزق په باره کښې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 5 فرامين

(1): د ټولو نه زيات پاک خوراک هغه دے کوم چې په خپلو لاسو وګټلے شي او وخوړلےشي [1] (2): بے شکه الله پاک پيشه ور مسلمان دوست ساتي[2] (3): څوک چې د مزدورئ نه مازديګر ستړے راشي، د هغۀ هٰغه مازديګر، د بخښنې مازديګر وي [3] (4): د پاکې ګټې والا د پاره جنّت دے [4] (5): بعضې ګناهونه داسې دي د کومو کفاره چې نۀ نـمونځ دے، نۀ روژې دي نۀ حج، نۀ عمره ده- د هغې کفاره هٰغه پريشانئ وي کومې چې انسان ته د حلال رزق په لټولو کښې رَسي- [5]

## د حرام رزق په باره کښې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 4 فرامين

(1): يو ګس اوږد سفر کوي د چا ويښته چې ګډ وډ دي او په بدن باندې يـې دوړه

1…ترمذی، کتاب الاحکام، باب ماجاء ان الوالد…الخ، صفحه:349، حديث:1358۔
2…معجم اوسط، جلد:6، صفحه:327، حديث:8934۔
3…معجم اوسط، جلد:5، صفحه:337، حديث:7520۔
4…موسوعه ابن ابي دنيا، کتاب الاخلاص و النية، جلد:1، صفحه:178، حديث:31۔
5…معجم اوسط، جلد:1، صفحه:42، حديث:102۔

ده (یعنې د هغهٔ حالت داسې دے چې دُعا وکړي نو قبوله به شي) هغهٔ د اسمان طرف ته لاس پورته کړي او یا رَبّ! یا رَبّ! وائي (دُعا کوي) خو حالت یــې دا دے چې د هغهٔ رزق حرام، څښل حرام، جامې حرامې او خوراک حرام دے نو بیا به د هغهٔ دُعا څنګه قبوله شي! (یعنې که د دُعا د قبلیدو خواهش وي نو حلاله پیشه اختیار کړه) [1] (2): پهٔ خلقو باندې به یوه زمانه داسې راځي چې انسان به پروا هم نهٔ کوي چې هٰغه څیز هغهٔ د چرته نه حاصل کړے دے، د حلالې طریقې نه که د حرامې طریقې نه [2] (3): کوم بنده چې حرام مال حاصلوي اګر که ❀ هغه صدقه کړي نو قبول نهٔ دے ❀ که لګوي یــې نو پهٔ هغې کښې د هغهٔ د پاره برکت نشته ❀ او که د خپل مرګ نه پس یــې پرېږدي نو دوزخ ته د تللو ذریعه ده- الله پاک پهٔ بدئ سره بدي نهٔ ختموي، آؤ پهٔ نیکئ باندې بدي ختموي، بے شکه نا پاکه نا پاک نهٔ ختموي [3] (4): چا چې عیب داره څیز خرڅ کړو او عیب یــې ظاهر نهٔ کړو، هغهٔ همیشه د الله پاک پهٔ ناراضګئ کښې دے یا یــې وفرمائیل چې همیشه فرښتے پهٔ هغهٔ باندې لعنت وائي- [4]

## دوه اهمې شرعي مسئلې

دوه اهمې شرعي مسئلې پهٔ ذِهن کښې کښینوئ! او پهٔ دې باندې پوره پوره عمل وکړئ:

(1): اَجِیر او مُستَاجِر (یعنې چا ته چې پهٔ اِجاره باندې څوک ساتل دي) پهٔ دې دواړو باندې د اِجارې احکام زده کول فرض دي- [5]

د دې یوه بهترینه طریقه خو دا ده چې پهٔ **بهارِ شریعت، جلد: 3، حصه: 14** باندې د

1...مسلم، کتاب الزکاۃ، باب قبول الصدقة...الخ، صفحه:364، حدیث:1015۔
2...بخاری، کتاب البیوع، باب من لم یبال...الخ، صفحه:538، حدیث:2059۔
3...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:505، حدیث:3744۔
4...ابن ماجه، کتاب التجارات، باب من باع عیبا فلیبینه، صفحه:359، حدیث:2247۔
5...حلال طریقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول، صفحه:4۔

اجارې احکام ولولئ! چې پۀ څۀ باندې پوهه نشئ نو د هغې پۀ باره کښې د عاشقانِ رسول علمائے کرامو نه پوښتنه وکړئ! دويمه طريقه دا ده چې فرض علوم کورس اوکړئ! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوت اسلامي د لاندې مختلف شارټ کورسز(***Short courses***)کولے شي په هغې کښې يو فرض علوم کورس هم دے په دې کورس کښې شرکت اوکړئ!اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! ډير فرض علوم زده کول به مو نصيب شي

دويمه شرعي مسئله: (2): پۀ کار کښې سستي کول او اُجرت پوره اخستل ګناه او حرام کار دے۔

✿ اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د کار درې حالتونه دي: (1): سست (2): مُعْتَدِل ( يعنې درمِيانه او ) (3): ډير تيز- که مزدورى کښې (کم از کم مُعتَدِل هم نۀ وي صرف) پۀ سستۍ سره کار کوي نو ګنهګار دے او پۀ دې باندې پوره مزدوري اخستل حرام کار دے- د هٔغه همره کار (يعنې چې خومره يې کړے دے) د هغې مطابق چې خومره اُجرت دے هغه دې واخلي، د هغې نه چې څۀ زيات ميلاؤ شو مُستَاجِر (يعنې د چا سره چې يې د نوکرۍ لوظنامه کړې ده هغۀ ته دې) واپس کړي- [(1)]

که چرته پۀ کار کښې سست شي نو غور دې وکړي چې پۀ مُعتَدِل يعنې پۀ درميانه انداز کښې خومره کار کيدے شي مثلاً کمپيوټر آپريټر(***Computer Operator***) دے او روزانه ورته 100 روپۍ اُجرت ميلاؤيږي، پۀ درميانه انداز کښې پۀ کار کولو کښې روزانه 100 کرښې کمپوز کوي خو نن يې صرف د سستۍ يا د غير ضروري خبرو پۀ وجه 90 کرښې تيارې کړې نو د دې 10 کرښو د کمې دې 10 روپۍ کټ کړي چې دا 10 روپۍ اخستل حرامې دي، که کټ يې نۀ کړې نو ګنهګار او د دوزخ د وور حقدار دے- [(2)]

---

1... فتاوىٰ رضويه، جلد:19، صفحه:407۔

2... حلال طريقے سے کمانے کے 50 مدنی پھول، صفحه:54۔

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

## پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: علاقائي دوره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د ګناهونو نه د بچ کيدو، د اخرت د فِکر حاصلوولو د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پۀ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي- پۀ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: علاقائي دوره-

❁ د حديثِ پاک خلاصه ده: پۀ کومو ښپو باندې چې د الله پاک پۀ لاره کښې دوره پريوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کيږي [1] ❁ د نيکئ د دعوتو ورکولو، د ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وتل هم د الله پاک پۀ لاره کښې وتل دي ❁ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نيکئ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشريف وړلو ❁ مختلفو قبائلو ته به يـې د تللو سره هم د نيکئ دعوت ورکولو-

❁ د دعوتِ اسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❁ کور کور، دُکان دُکان ته د تللو سره د نيکئ دعوت ورکولے شي ❁ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❁ د نـمونځونو ترغيب ورکولے شي ❁ مونږ دې ته علاقائي دوره وايـو

## شرابي د مَدَني قافلې مسافر جوړ شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول يوه مَدَني قافله (د ګجرات، هندوستان) يو ښار ته ورسيدله، قافله کښې اِسلامي ورونړه د علاقائي دورې کولو د پاره د جومات نه بهر تشريف يوړلو، پۀ علاقائي دوره کښې يو شرابي ته د نيکئ دعوت ورکړے شو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه!

1... مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حديث:16356۔

هغه شرابي د قافلې والؤ سره د جومات طرف ته روان شو، اِسلامي ورونړو د هغهٔ سره دومره د ښو اخلاقو مظاهره وکړه چې هغهٔ شپږ ورځې د مَدَني قافلې والؤ سره وو، د علاقائي دورې پهٔ برکت او د عاشقانِ رسول د صحبت پهٔ وجه هغهٔ د ګناهونو نه توبه کړه، ګیره مبارکه یې لویه کړه، عمامه شریف یې هم پهٔ سر کړه- داسې یو شرابي د علاقائي دورې پهٔ برکت نیک نـمونځ ګزاره شو-

| | |
|---|---|
| گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی | چڑھائے گا ایسا نشہ دینی ماحول |
| یقینا مقدر کا وہ ہے سکندر | جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول |

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ”القرآن الکریم“ ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجۍ دور دے- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک **دعوتِ اِسلامي** د جدید ټیکنالوجۍ پهٔ ذریعه هم د عِلمِ دِین عام کولو کوشش کوي- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې: ***Quran Al kareem***(القرآن الکریم ) دے- پهٔ دې ایپلي کیشن کښې ❀ د پوره قرآنِ پاک لوستلو ❀ او د مختلفو قاریانو پهٔ اوازونو کښې د قرآنِ پاک اوریدلو سهولت موجود دے ❀ دې سره سره یو خاص سورت یا آیت ***Bookmark*** کیدے هم شي یعني بیا بیا لوستونکے سورت یا آیت د ***Bookmark*** کیدو سره پهٔ اسانۍ سره لوستلے کیدے شي-

اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې تقریباً د لسو لاکو نه زیاتو ګسانو دا ایپلي کیشن ډاؤن لوډ کړے دے- تاسو هم دا ایپلي کیشن پهٔ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، پخپله ترینه هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

# يو څو ضروري اِعلانات

✿ د هر خالي پۀ ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ مَدَني چینل باندې لائیو هفته واره مَدَني مذاکره کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځۀ نه پس به (تقریباً 9:15 بجې) پۀ مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې ېخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ✿ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام پۀ باره کښې 25 سوالونه او جوابونه رسالې اعلان کولے شي- دا رساله ېخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (Share) کړي! ✿ د اُردو ویونکو او پۀ دې د پوهیدونکو د پاره د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خلیفه، صدر الشریعه مفتي امجد علي اعظمي صاحب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د فقهې پۀ مسئلو مشتمله عظیم الشانه تحفه ده: بهارِ شریعت- دا کتاب مسلمانانو ته پۀ روزانه معاملو کښې د شریعت مطابق د ژوند تیرولو پوره رهنمائي ورکوي- دا کتاب د مکـتبة الـمدینه د یوې څانګې نه پۀ ډسکاؤنټ سره پۀ 10440 روپۍ پۀ بیعه حاصل کړئ، ېخپله یـې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ! یہ عبارت اردو فائیل میں نہیں ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىَ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ

زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به پهٔ جنّت کښې زما سره وي۔ [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د وعدې پابندي سُنَّت ده

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 2 فرامین مبارک دي: (1): څوک چې وعده نهٔ پوره کوي، د هغهٔ هيڅ ايمان نشته۔ [2] (2): کوم مسلمان چې د خپل وروړ سره وعده خلافي وکړي پهٔ هغهٔ باندې د الله پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے۔ [3]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! وعده پوره کول سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبيا دي ❀ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ خپله وعده کلک ولاړ وو او ❀ وعده ماتول به يــې نهٔ خوښول ❀ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عرض وکړو چې: تاسو ودريږئ! زهٔ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغهٔ ته بيا ورياد شول، چې کله هغهٔ هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پهٔ هغه ځائے کښې تشريف فرما وو او مَاشَآءَالله! شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يـې وګورئ! چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هٰغه کَس اونه رټلو او نهٔ پهٔ جلال کښې راغلو، بس دومره يـې وفرمائيل: اے سړيه! تا زهٔ پهٔ مشقت کښې واچولم۔ [4] الله پاک دې مونږ هم پهٔ سُنّتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

---

1...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔
2...مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، کتاب: الايمان، جلد:7 صفحه:223۔
3...بخاری، کتاب: جِزْيه، صفحه:815، حديث:3179۔
4...اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب فی العدة، صفحه:781، حديث:4996۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنّتيں سيکھنے تين دِن کے ليے | ہر مہينے چليں، قافلے ميں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه کښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

1 . . . افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصاً

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لَوَلي كه ولاړ وو نو د كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لَوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریكه اووائیو:

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریكه ئې اُووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم

یوه ورځ یو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّیقِ اكبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه كښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شول چې دا څوك

1 ...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکئ:

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د یو زر ورځو پورې نیکئ لیکي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[4] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵
2 ...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰
3 ...مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵
4 ...تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵